



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !


معراج الدین « شمس »


د نشرنېټه : 9 نوامبر 2025 میلادی


# شهزاده زویه!




خانده په خندا شه شهزاده زویه
پاتې ځنګ ته زما شه شهزاده زویه

بې لتا سکون نشته تورتم کې یم
زما د زړه رڼا شه شهزاده زویه

کینه ځنګ ته کینه چې دې وګورم
تلو نه دې په شا شه شهزاده زویه

ولې ناځواني کوې او ځې رانه
زما بې بیرته زما شه شهزاده زویه

پېټه خوله او سترګې مرور پروت بې
جیګ شه را پخلا شه شهزاده زویه

ستا خو دا ځواني د ورکیدو نه ده
مونږ ته بیا پیدا شه شهزاده زویه

وران دې کړم ویجاړ دې کړم له غمه دې
ته مې بیا کلا شه شهزاده زویه

ولې مې پرېږدې په نیمه لاره کې
بیا مې ته همراه شه شهزاده زویه

ژوند سره دې ولی دښمني کوئ
ژوند سره اشنا شه شهزاده زویه



غټ دی که ماشوم دی ستا په تمه دی
جیګ شه مسیحا شه شهزاده زویه

واوره چې ګاکا دې تاته څه وايي
زوی خپل د کاکا شه شهزاده زویه

بې لتا علي، مرو نیمګړي دي
دوي ته بیا لالا شه شهزاده زویه

ته د شمسي شمعي او سومایا
ته ورور د حنا شه شهزاده زویه

مستي ښکلې سترګي دې نور پټې کړې
شهید پاک د الله شه شهزاده زویه
***
معراج الدین « شمس »



بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org